د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

شنبه ۲۳ ربيع الاول ۱۴۴۰هـ | ۰۱-۱۲-۲۰۱۸م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۰/۰۳

## مطبوعاتي اعلاميه

# د جنيوا کنفرانس؛ بادار ته د مزدور حساب ورکول

د افغانستان لپاره د جنيوا کنفرانس د نومبر په ۲۷ او ۲۸مه په سويس کې جوړ شو، چې د ٦٢ هېوادونو او ۳۵ نړيوالو سازمانونو استازو، د افغانستان د حکومت رهبرانو، د خصوصي سکتور او مدني ټولنو استازو پکې برخه واخيسته، چې په ترڅ کې يې د افغانستان حکومت په تېرو کلونو کې د کړو ژمنو پايلې او د مرستو د مصرف د څرنګوالي راپور نړيوالې ټولنې ته وړاندې کړ.

د جنيوا کنفرانس د تېرو کنفرانسونو په څېر چې کله به د افغانستان د اشغال په موخه، بيا د اشغال د دوام او د افغان دولت د مالي او سياسي ملاتړ لپاره جوړېدل، نړيوالې ټولنې او په هغې پورې اړوندو سازمانونو ته د افغانستان له لوري د راپور ورکولو يو ميکانېزم دی، چې په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې په وسيله د تعين شوو موخو او پاليسيو د پرمختګ کچه ارزوي.

دغه کنفرانس د خلکو پر ژوند هېڅ مثبت اغېز نه لري او د افغانانو هېڅ درد يې نه دی دوا کړی. حتی هغه ستونزې چې د افغانستان دولت افغانانو ته جوړې کړې دي، په دغه کنفرانس کې د لاسته‌راوړنو په توګه وړاندې شوې. لکه پر سوداګرو او صنعتکارانو د درنو مالياتو وضع کول، پر وارداتو د ګمرکي تعرفې درې برابره کول، پر تليفوني مکالمو ماليه لګول، د پانګونې د جلب په پلمه د ډالر او نورو بهرنيو اسعارو په مقابل کې د افغانۍ ارزښت کمول او بالاخره افغانستان د نړيوال بانک، د پيسو نړيوال صندوق او بهرنيو پانګوالو د پور ورکونې شرايطو ته تيارول. په داسې حال کې چې پورتنيو ټولو مواردو د افغانانو د ژوند حالت خورا ناوړه کړی او فقر، بېکاري او جنايي جرمونه يې زيات کړي دي.

د دې تر څنګ هغه لاسته راوړنې چې له اداري فساد سره د مبارزې او په دولت کې د اصلاحاتو په ډګر کې ستړې ښودل کېږي، واقعيت يې دا دی چې فساد يې له غير رسمي حالته د رسمي دولتي ادارو په چوکاټ کې قانوني حالت ته اړولی، چې د نورو مفسدينو لاسونه يې ورلنډ کړي او د ارګ په کړی او حاکمه طبقه پورې يې محدود کړی دی او د اداري اصلاحاتو په ډګر کې په دولتي بنسټونو کې د پخوانيو مجاهدو او کمونيستو عناصرو پر ځای په غرب کې روزل شوي عناصر ځای پر ځای شوي دي.

نو د دغه کنفرانس پايله د يو اړخيزو اصلاحاتو په ترسره کولو، درنو مالياتو لګولو او د ناسمو اقتصادي سياستونو له لارې د افغانستان د دولت لخوا د خلکو د وينې زبېښل دي، ترڅو د افغانستان دولت د خپلو خلکو د جيب او دسترخوان په لوټلو خپله اتکا له بهرنيو مرستو څخه کورنيو عوايدو ته متمرکزه کړي او په افغانستان کې جګړه خپله د افغانانو له عوايدو څخه د دوی په وينه دوام ورومي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**